پوهنمل حاجي محمد نوزادي

# دنړۍ ترټولو مشر ژوی وموندل شو

د metroXpress پنامه ډنمارکی ورځپاڼي پدغه هکله د ۲۸ / ۸ / ۲۰۰۷ نیټي په ګڼه کښي یو خبري مطلب خپورکړي چي خورا په زړه پوري دي . ددغه خبر پښتو ژباړه داده دخپلو لیکنو درنو لوستونکو ته وړاندي کوم :

په ډنمارک کي دکوپنهاګن پوهنتون پروفیسور Eske Willersliv تر مشرۍ لاندي یوه نړیوال ځیرونکي ګروپ دخپلو ځیرونو په ترڅ کي په کاناډا، سائیبریا او همدارنګه دځمکي په شمالي قطب کښي ددایمي منجمدوسیمو دځینوحفریاتو ( کیندځایونو ) څخه یو ډول میکروسکوپي باکتریاوي را ایستلي چي په نړیواله کچه دعجاییبو څخه ګڼل شوي دي . دا پدي خاطر ه ده چي نوموړي باکتریاوي پنځه سوه زره ( نیم میلیون ) کاله عمر لري او لاتراوسه هم ژوندي پاتي دي . له همدي کبله دغه باکتریاوي دنړۍ ترټولو مشر ژوندي حیوانات بللاي شو . ددغو ژوندیو باکتریاوو د ځیرني له مخي کیدلا ي شي دزیاتو کلونو دپاره دژوندي پاته کیدلو داسرارو په باره کي په نوو امکاناتو سره په لویه کچه اړین معلومات ترلاسه شي . دځیرونکو یادشوي ګروپ ددغو کشف شوو ژویو په هکله خبرپڼي وروستیو کي د ( PNAS) پنامه یوي امریکایي علمي مجلي کي خپورکړي چي همدا اوس ئي دپوهانو زیات پام ځانته اړولی دی .

پدغه کشف سره لاندي سوالونه منځته راځي:

۱ ــ ددومره اوږده وخت دپاره دیوه ژوندي ارګانیزم دژوندي پاته کیدو بنسټیز پیوند کوم دي ؟

۲ ــ څنګه کیدلاي شي دیوه ژوندي ارګانیزم دبدن حجر ي ددي پرځاي چي دزوړوالي خواته ولاړي شي ، کال په کال په منظم ډول بیا دسره نوي او وده وکړي ؟

۳ ــ ایا کولاي شو ددغه راز په پوهیدلو سره دبیلګي په توګه دانسانانو ژوند دوه برابره اوږد کړو ؟

نوموړي پروفیسور دغه وروستني سوال ته منفي ځواب ورکوي او وایي چي همدا اوس اوس داکار امکان نلري . دي زیاتوي چي داکشف موږ ته داګړی دا امکان پلاس راکوي چي دژوندي ارګانیزم دحجرو دزړیدو دمیګانیزم په هکله په پوهنیزه توګه معلومات ترلاسه کړو، مګر دزوړوالي دپروسي درول لاتراوسه دوخت نه ډیره مخکي خبره ده . پدي اړه کیدلاي شي دا راز هم په ګوته شي چي څنګه یو ژوندي ارګانیزم دومره اوږد وخت ژوندکولاي شي.

دیادو شوو باکتریاوو کشف یوه بله خبره هم رابرسیره کوي او هغه داچي د ډاروین دمنل شوي تیورۍ ځیني ټکي ترسوال لاندي راولي . دیادوني وړده چي ډاروین ( * ) د ژوندي موجوداتو د ودي او انکشاف میکانیزم په خطي ډول تشریح کړیدي . ددي خبري معنا داده چي دژوند دیوي مرحلي ( پړاو ) په پاي ته رسیدو سره، بل نوي پړاو پیل کیږي او داجریان په همدي ډول مخ په وړاندي روان وي چي هیڅکله هم دشا وخواته بیرته نه راګرځي .

مګر دپروفیسور Ekse Willersliv دي کشف دا وښوده چي دکنګل شوو سیمو په ویلي کیدو او اوبه کیدو سره به دلته راګیري شوي دغه زړي باکتریاوي ازادي او په اسانۍ سره به وکړاي شي د نوو او ځوانو باکتریاوو سره سیالي اورقابت وکړي . لدي نه بیا داپایله ترلاسه کیږي چي ممکن ژوندي موجودات همدارنګه کولاي شي په دایروي او دوراني شکل هم دخپل ژوند انکشافي پړاوونه تیر او پرمخ وشړي.

دبل پلو نه داخبره هم دپام وړ ده چي دځمکي ددايمي کنګل شوو سيموڅخه په ترلاسه شوو نمونو کي ددغو ډيرو زړو او ژونديو باکترياوود پيداکولوله مخي بايد دا امکان هم له ياده ونه غورځول شي چي ممکن ژوندي موجودات په داسي نورو سيارو کښي هم پيداشي لکه مريخ اونور چي په پراخه پيمانه کنګل شوي سيمي لري .

دکوپنهاګن پوهنتون نومورې پروفيسور په پاي کي زياتو ي چي ممکن هلته په مريخ کښي باکترياوي وکړاي شي دځمکي دکري په پرتله لازيات وخت ژوندي پاتي شي .

دژباړي پاي .

( * ) د ژباړونکي لخوا :

چارلز ډاروين يوانګليسي طبعت پيژندونکي ( ۱۸۰۹ ـ ۱۸۸۲ ) وو چي د طب ، الهياتو اوطبعي علومو په برخو کښي ئي زده کړې سرته رسولي دي . د زولوجي ( ژوي پيژندني ) او جيولوجي ( ځمکي پيژندني ) په ځانګو کي ئي څيړنودپام وړبرياليتوبونه ورپه برخه کړيدي . په ۹ ۱۸۵ کال ئي دخپلو اوږدو څيړنو پايلي د ( انواعو منشا )پنامه يوه کتاب کښي خپري کړي اود غه کتاب وو چي دي ئي نړيوال شهرت ته ورساوه . د ( طبعي انتخاب ) موضوع دده دتيوری بنسټ تشکيلوي . دي واي‌ي چي د ژوندي حيواناتو له ډلو نه هغه ژوي خپل ژوندته دوام ورکولاي شي چي دطبعي چاپيريال دشرايطو سره د ادپت کيدو ( توافق کولو ) وړتيا اودطبعت دناخوالو سره دمقاومت توان ولري . د حيواناتوهغه انواع چي داډول وړتياوي نلري ،په تدريجي توګه دمنځه ځي او ځاي ئي نور ډولونه نيسي . دده تيوري دهغه وخت راهيسي ديولړ مذهبي ليډرانو ترنيوکو لاندي راغلي ده . په څو وروستيو لسيزو کښي د نوو څيړنو پايلي ښئي چي د نومورې تيوري پر ځينو ټکيو باندي پکارده دسره غور وشي او لازيات وشاربل شي .

په درنښت.